د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 450**

(5 عقرب – 10 عقرب 1403 هـ ش)

## یو کلن الاقصی طوفان؛ د جګړې نوي اړخونه او د هغې ستراتیژیکې ستونزې



دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- یو کلن الاقصی طوفان؛ د جګړې نوې اړخونه او د هغې ستراتیژیکې ستونزې ..........................3
- د اقصی طوفان یو کال ..............................................................................3
- په منځنی ختیځ کې د مقاومت ډلې .........................................................4
- د جنګ نوي اړخونه او د صهیونیسټ رژیم ستراتیژیکي بحران ..........................................7
- پایله ...........................................................................................9
- وړاندیزونه ................................................................................... 10
- سرچینې ..................................................................................... 10


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## یو کلن الاقصی طوفان؛ د جګړې نوي اړخونه او د هغې ستراتیژیکې ستونزې

**سریزه**

یو کلن اقصی طوفان، چې د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر په ۷ مه پیل شوی، په سیمه ییزو او نړیوالو پرمختګونو کې د بدلون ټکی ګڼل کیږي. دا پوځي عملیات د غزې په خلکو باندې د صهیونیستي رژیم د کلونو کلونو نیواک او له بشري حقوقو د سرغړونې په نتیجه کې د فلسطین د اسلامي مقاومت غورځنګ حماس او نورو اسلامي غورځنګونو لخوا ترسره شول. دې نه یوازې د فلسطین پر امنیتي وضعیت او بشري حقونو ناوړه اغېزه وکړه، بلکې له یوې خوا په منځنۍ ختیځ کې د کړکېچ د زیاتېدو لامل شو او له بلې خوا دغه پېښه د دې لامل شوه، چې د سیمې د هیوادونو پر ستراتیژۍ بیا کتنه وشي، په تیره بیا د فلسطینیانو د حقوقو د ملاتړ او د صهیونیستي رژیم له اقداماتو سره د مقابلې په برخه کې.

د الاقصی د طوفانی عملیاتو په شروع کیدو او په غزې باندې د صهیونیستي رژیم د حملو له زیاتیدو سره په منځنۍ ختیځ کې د اسلامی مقاومت غورځنګ حماس د ملاتړ لپاره د مختلفو پوځي ډلو ترمنځ پیوستون او ملګرتیا لا له مخکې څرګنده شوې ده. د لبنان حزب الله، د یمن حوثي او د عراق اسلامي مقاومت، هر یو په خپل وار سره د پوځي عملیاتو په ترسره کولو او د غزې د خلکو په ملاتړ وښودله چې د اشغال او ظلم په وړاندې مبارزه د آزادو خلکو ګډ هدف دی.

صهیونیستي رژیم په دې وروستیو کې له سختو پوځي او ستراتیژیکو چیلنجونو سره مخامخ دی او د نتانیاهو په مشرۍ حکومت، د مقاومت د قوماندانانو په وژلو او د حملو په زیاتولو او د مقاومت او د هغه د ملاتړو په وړاندې د خلکو په وهلو سره د خپل وقار د بیرته ترلاسه کولو هڅه کوي. د امریکا متحده ایالاتو بې دریغه پوځي ملاتړ هم د دغه رژیم د درنو تلفاتو د کمولو توان نه لري. د دغو بدلونونو په اساس د غزې او د حماس د اسلامی مقاومت غورځنګ په اړه د صهیونیستي رژیم تګلاره بیا کتنې ته اړتیا لري.

د اقصی د طوفان یو کال، د مقاومت د ملاتړ لپاره په جنګ کې ښکیلې ډلې، د جنګ نور اړخونه او د صهیونیستي رژیم د ستراتیژیک بحران ځینې مهمې موضوع ګانې په دې تحلیل کې مطرح شوي دي.

### د اقصی طوفان یو کال

د اقصی طوفان عملیات د یوې مهمې او غیر متوقعې پیښې په توګه چې د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر پر ۷ نیټه د اسلامي مقاومت غورځنګ حماس لخوا ترسره شول، د سیمې او نړۍ ټول قوتونه یې حیران کړل. دغه پوځي عملیات دصهیونیستي رژیم له ظلم او محاصرې وروسته د فلسطین دځمکو له نیواک او په تیره بیا په غزه کې د صهیونیستي رژیم له خوا د فلسطین د مقاومت د ډلو د حملو او ګواښونو په ځواب کې ترسره

شول. له دې پېښې یو کال وروسته په سیمه کې ډېر سیاسي، پوځي او ټولنیز پرمختګونه شوي دي. په دې بدلونونو کې د کړکیچ زیاتوالی او د اوربند د رامنځته کولو لپاره د ډیپلوماټیکو هڅې شاملې دي.

د دې ترڅنګ د دغه طوفان انساني تلفات هم د پام وړ دي او د غزې د خلکو په خلاف د صهیونیستي رژیم له پراخو جنایتونو سره د صهیونیستي رژیم د پوځیانو او ملکیانو د زیاتې مرګ ژوبلې سبب شوی دی. په تیر یو کال کې د صهیونیستي رژیم ۱٦۹۷ عسکر او افسران وژل شوي او ۵۰۰۰ نور ټپیان شوي چې له دې جملې څخه د ٦۹۵ تنو روغتیایي حالت نازک ښودل شوی دی. همدارنګه ۱۹۰۰۰ نور اسراییلي ملکي وګړي ټپیان او ۱۴۳۰۰۰ نور بې ځایه شوي دي. دغه وضعیت په سیمه کې بشري ناورین ته لمن وهلې او د جګړې دوارو غاړو ته یې د بشري مرستو اړتیا زیاته کړې ده. له دې نه علاوه په مختلفو ناستو کې صهیونیستي رژیم د دغه حملې انعکاس د عملیاتو د ژورو اغیزو او په ټولو سیاسي، اقتصادي او امنیتي ډګرونو باندې اغیز لیدل شوی دی. د فلسطین مقاومت لخوا د څه د پاسه ۲۴۰ صهیونیستانو یرغمل کیدل هم په صهیونیستي ټولنه کې د ژورو سیاسي او ټولنیز اختلافونو سبب شوی دی.[1]

په نړیواله کچه د صهیونیست رژیم د بې ساری جنایتونو له امله د الاقصی طوفان، د دغه رژیم د نړیوال مشروعیت لپاره د ستر تخریب سبب شوی دی. د نړۍ په ډېرو ښارونو کې په غزې کې د صهیونیست رژیم د جنایتونو په غندلو کې په پرله پسې ډول مظاهرې وشوې. همدارنګه د هارورډ پوهنتون د یوې سروې د پایلو له مخې چې د مختلفو عمرونو دوه زره امریکایانو پکې ګډون کړی وو، ۵۱ فیصده ځوانان په دې باور دي چې د صهیونیستي رژیم او فلسطین ترمنځ د شخړې اوږدمهاله حل د اسرائیلو ختمول او حماس او "فلسطینیانو" ته واک سپارل دي.[2]

له بلې خوا په غزې ترانګې باندې د نیواک دوام د دې سبب شوی چې د صهیونیست رژیم د جنایتونو د بندولو لپاره مختلف نړیوال سازمانونه لاس په کار شي. د 2024 کال د مارچ پر 25مه، د ملګرو ملتونو امنیت شورا د سمدستي او دایمي اوربند لپاره یو پریکړه لیک صادر کړ. دغه راز د جنورۍ په ۲٦ نېټه د عدالت د نړیوالې محکمې پرېکړه په غزه کې د فلسطینیانو د نسل وژنې د مخنیوي، د اساسي خدمتونو او بشري مرستو د تامینولو او په غزه کې د نسل وژنې د مخنیوي لپاره د موقتي تدبیرونو د نیولو پرېکړه وکړه. په دې وروستیو کې د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلۍ د اسرائیلو د نیواک د دوام د پایلو د روښانه کولو لپاره د عدلیې نړیوالې محکمې ته خپله غوښتنه وړاندې کړه، خو صهیونیست رژیم د نړیوالو بنسټونو له خوا صادر شوی پریکړه لیک له پامه غورځولی. دغه بنسټونو صهیونیست رژیم د پخوا په پرتله ډېر په روښانه شکل د یو باغي او بې قانونه رژیم په عنوان یاد کړی دی.

## په منځني ختیځ کې د مقاومت ډلې

دا چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه د میلیونونو آزادو خلکو د غزې له خلکو او په فلسطین کې د اسلامي مقاومت غورځنګ حماس په مشرۍ د مقاومت له ډلو سره خواخوږي لري، په منځني ختیځ کې د مقاومت نوري مختلفې ډلې «د مقاومت د محور» پنوم د اسلامي مقاومت غورځنګ حماس سره په همغږۍ د غزې د خلکو دفاع لپاره د صهیونیستي رژیم پرضد خپل پوځي عملیات پیل کړي دي.

دي ته په پام سره چې د صهیونېستې رژیم په وړاندې د حماس د اسلامي مقاومت غورځنګ استقامت، پایښت او قرباني په نننۍ نړۍ کې له هیچا پټې نه دي. له همدې امله په دې اړه له جزیاتو ورکولو ډډه کوو او د غزې له خلکو او د حماس له اسلامي مقاومت غورځنګ سره په همغږۍ په منځني ختیځ کې د ځینو نورو جبهو د فعالو اقداماتو نومونه په مستقیم ډول معرفي او ذکر کوو.

**د لبنان حزب الله:** په منځني ختیځ کې د مقاومت د محور یوه مهمه ډله د لبنان حزب الله ده. صهیونیستې رژیم په ۲۰۰٦ میلادی کال کې له لبنان سره د ځمکنۍ جګړې په پیلولو سره دغه هیواد ته داخل شو او له ۳۳ ورځني جنګ وروسته دغه جنګ د لبنان د حزب الله په بریا او د صهیونیستانو په ماتې سره پای ته ورسید.

د ۲۰۲۳ میلادی کال د اکتوبر په ۷ د اقصی د طوفان له شروع کېدو وروسته کله چې صهیونیستې رژیم د غزې په ماشومانو او ملکیانو باندې خپل هوایي بریدونه پیل کړل؛ د لبنان حزب الله د نیواک شویو سیمو په شمال کې خپل بریدونه پیل کړل، که څه هم دغه جګړه تر ۲۷ سپټمبره د لبنان په جنوب کې د حزب الله په دفتر باندې د رژیم له برید او د حسن نصرالله تر وژل کیدو پورې د حزب الله او صهیونیستې رژیم ترمنځ جګړه تر ډیره پراګنده او غیر منظمه روانه وه. البته د دغې حملې وروسته د دواړو خواوو ترمنځ جنګ زیات شو او حتی صهیونیستې رژیم د روان کال د اکتوبر په لومړۍ نیټه د لبنان پرضد خپل ځمکني عملیات پیل کړل.[3] په داسې حال کې چې صهیونیستې رژیم د خپلو هوایي حملو په نتیجه کې د ماشومانو او ښځو په شمول په لسګونو کسان شهیدان کړل، خو د صهیونیستې رژیم پرضد د تېرو جنګونو په پرتله د لبنان حزب الله ډیر لوړ پوځي توان لري او هره ورځ یې په نیواکګرو ښارونو، پلازمینې او حتی د لومړي وزیر نتانیاهو پر استوګنځي په لسګونو توغندي ویشتلي دي.[4]

**انصار الله (د یمن حوثي):** د یمن حوثي غورځنګ یا انصار الله په منځني ختیځ کې یو بل سیاسي او نظامي سازمان دی چې په 1990 لسیزه کې په یمن کې راڅرګند شو. یمني حوثیان د ایران په ملاتړ د یمن په کورنیو جګړو کې د قضیې یو اړخ و او د یمن په ډیرو برخو حتی د یمن په پلازمینه صنعا او شمالي برخو باندې تسلط لري، د صهیونیستې رژیم خلاف د حوثیانو د عملیاتو پیل د ۲۰۲۳ میلادی کال د اکتوبر له ۱۹ نیټې څخه پیل شو کله چې هغوی په صهیونیستې رژیم څو توغندي او ډرون وویشتل. له هغې وروسته د روان کال په نومبر میاشت کې په سورسمندر کې د صهیونیستې رژیم په بیړیو حمله وکړه او یوه یې له ځانه سره یوړه. د راپورونو له مخې د روان کال تر جون میاشتې پورې په سور سمندرګي او د عدن په خلیج کې تر ۵۰ زیات

اسراييلي، امريکايي او برتانوي کښتيو بريدونه شوي دي.[5] د دغې ډلې مشر عبدالملک الحوثي تل ټينګار کړی دی چې د غزې او لبنان د مظلومو خلکو په دفاع کې به د صهيونيستي رژيم پرضد خپلو عملياتو ته دوام ورکړي.

**د عراق اسلامي مقاومت:** د عراق اسلامي مقاومت چې په منځني ختيځ کې يو بل پوځي غورځنګ دی چې د صهيونيستي رژيم په وړاندې د مقاومت محور کې هم شامل دی او په عراق او سوريې کې يې د امريکې په هدفونو باندې عمليات ترسره کړي دي. د الاقصی له طوفان وروسته دغه پوځي غورځنګ د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر پر ۱۸ نېټه د يوې بيانيې په خپرولو هغه وخت له غزې سره خپل ملاتړ اعلان کړ چې د عراق په کردستان کې د حرير په هوايي اډه باندې د ډرون بريد مسؤليت يې په غاړه واخيست او د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر تر ۳۰ نېټې پورې په عراق او سوريه کې پر امريکايي ځواکونو شاوخوا ۲۰ بريدونه کړي دي.[6] په غزه کې د صهيونيستي رژيم د يو کلن عملياتو په ترځ کې د عراق مقاومت وخت په وخت دامريکا متحده ايالات او صهيونيستي رژيم په هدفونو حملې کړي دي، خو د لبنان پلازمېنې په جنوب کې د حزب الله د رهبری په مرکز باندې له حملې او د صهيونيستي رژيم لخوا په دغه حمله کې د دغه ګوند د مشر حسن نصرالله له وژل کېدو وروسته، د عراق مقاومت په سيمه کې د "مقاومت محور" د يوې مهمې ډلې په توګه راڅرګند شوی دی او د حسن نصرالله له وژنې دوه ورځې وروسته يې اعلان وکړ چې د بې پيلوټه الوتکو په کارولو سره يې د اشغال شوې سيمې په جنوب کې د ايلات په بندري ښار کې يو مهم هدف په نښه کړی دی.[7] له هغې وروسته بې پيلوټه الوتکو د فلسطين په اشغال شوې خاوره کې په ايلات کې نور هدفونه هم په نښه کړي دي.[8]

**ايران:** د اسلامي جمهوريت له پيل راهيسې ايران له صهيونيستي رژيم سره خپل مخالفت اعلان کړی دی. ټولې هغه ډلې چې د صهيونيستي رژيم په وړاندې مقاومت کوي د لبنان حزب الله په ګډون له ټولو ډلو ملاتړ کوي.

له بلې خوا له څو کلونو راهيسې د ايران حکومت له صهيونيستي رژيم سره په مقابله کې د دغه هېواد مهم چارواکي د صهيونيستي رژيم له خوا وژل شوي دي.[9] دې خړ تاريخ ته په پام سره صهيونيستي رژيم په دغه جنګ کې د ايران د ښکيلتيا لپاره په تهران کې د حماس د سياسي دفتر مشر اسماعيل هنيه ووژه. له هغه وروسته د حزب الله مشر حسن نصرالله په لبنان کې ووژه او دغه کړنې د دې لامل شوې چې ايران پر اشغال شويو سيمو شاوخوا ۲۰۰ توغندي وتوغوي چې د ايراني چارواکو په وينا شاوخوا ۹۰ سلنه توغندي يې په هدف ولګېدل او لوی زيانونه يې واړول. په داسې حال کې چې د صهيونيستي رژيم رسنيو د دغه رژيم د چارواکو په حواله د ايران د توغنديو په نتيجه کې د زياتو زيانونو خبرونه رد کړل. له څو ورځو خبرداريو وروسته صهيونيستي رژيم د روان کال د اکتوبر په پنځمه په تهران او ځينو نورو ايراني ښارونو کې څو پوځي اډې په نښه کړې چې د ايرانيانو په وينا ډېر زيان يې نه دی اړولی او د انساني تلفاتو له مخې د دغه هيواد دوه پوځيان ووژل شول.[10] آيا ايران به د دغه بريد په ځواب کې د صهيونيستي رژيم پرضد حمله وکړي او که نه ؟ په ځواب

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کې کولای شو د ایران د سپاه پاسداران د پخواني قوماندان سردار عزیز جعفري څرګندونو ته اشاره وکړو چې څو ورځې وړاندې يې په خپله وړاندوینه کې ویلي وو: اسراییل به پر ایران محدود برید وکړي او ټینګار يې وکړ که برید لوی او د پام وړ و، دوی به خامخا څو ځله ځواب ورکړي." په ایران باندې د اسراییلو د برید په اړه د خپرو شویو فلمونو او عکسونو او همدارنګه د ایراني رسنیو د راپورونو په اساس، داسې ښکاري چې صهیونیستې رژیم کوم لوی او د پام وړ برید نه دی کړی. پدې اساس ممکن د ایران مستقیم ځواب ته ضرورت ونه اوسي.

## د جنګ نوي اړخونه او د صهیونیستې رژیم ستراتیژیکي بحران

په مقاومت کې د سیاسي او پوځي قوماندانانو د وژلو او په ټول منځني ختیځ کې د خپلو پرله پسې حملو او په دغه سیمه کې د کړکیچ رامنځته کولو او د صهیونیستې رژیم له خوا د بشري حقوقو د خلاف ورزیو په باره کې د صهیونیستې رژیم هڅو ته په پام سره داسې معلومیږي چې د صهیونیستې رژیم د جنګ پلان جوړونکي پدې بهیر کې د دریو موخو په لټه کې دي:

**لومړی:** دا چې صهیونیستې رژیم چې د نتانیاهو په مشرۍ له خپلو لیونیانو سره د خپل ورک شوي وقار د بیرته راګرځولو په لټه کې دی هڅه کوي چې د ماشومانو او ښځو په شمول د ملکي خلکو پرضد خپلو عملیاتو ته شدت ورکړي او ادعا کوي چې عام خلک د اسلامي مقاومت او په فلسطین کې حماس او همدا راز د «مقاومت له محور» سره تړلې نورې ډلې چې د ده په ملاتړ جګړې ته داخلې شوې دي، خوښ دي چې عام خلک د دوی په مقابل کې ودریږي. لکه څنګه چې نتانیاهو د فلسطین خلک د اسلامي مقاومت غورځنګ حماس په وړاندې په ډیرو ویناوو کې هڅولي دي. همداشان په دې وروستیو کې په یوه ویډیويي کلیپ کې د ایران خلکو ته په خطاب کې هغوی يې د ایران اسلامي جمهوریت د حکومت پرضد وهڅول.

**دوهم:** دا چې صهیونیستې رژیم په منځني ختیځ کې د خپلو حملو په پراخولو سره هڅه کوي په منځني ختیځ کې سیمه ییز قدرتونه لکه ایران ، ترکیه او سعودي عربستان په جنګ کې ښکیل کړي . د ترکیې د ملي استخباراتو د اکاډمۍ مشر په ایران باندې د احتمالي قوي حملې په اړه د صهیونیستې چارواکو د خبرداري په لړ کې وویل په ایران باندې د صهیونیستې رژیم د پراخې حملې په صورت کې به د ترکیې پښې هم جنګ ته وغزیږي او پدې اړه روسیې او چین وویل چې دوی به پدې اړه بې طرفه پاتې نشي.[11] خو اوس په ایران باندې د صهیونیستې رژیم د حملې اندازې ته په کتلو سره جوته شوه چې امریکا متحده ایالات چې د صهیونیستې رژیم ترټولو ستر ملاتړی دی دوی ته به اجازه ورنکړي چې دغه خوب يې پوره شي. په غزه او لبنان کې د رژیم د جنایتونو دوام او زیاتوالي ته په پام سره او د نړیوالې ټولنې چوپتیا په دغه جنګ کې د سیمه ییزو قدرتونو د لاس وهنې احتمالي خطرونه له پامه غورځولی نه شو.

**دریېم:** دا چې صهیونیستي رژیم غواړي لومړی د فلسطین مقاومت او بیا په لبنان، عراق او سوریه کې د حزب الله په ګډون په منځني ختیځ کې د مقاومت ټولې جبهې له منځه یوسي. وروسته به له ایران سره د یوه سیمه ییز سیال په توګه ودربږي. په دې صورت کې پوښتنه دا پیدا کیږي چې آیا داسې یو څه درک کولای شو؟ د دې پوښتنې په ځواب کې، لاندې خبرې مطرح کیدی شي:

**الف:** د حماس اسلامي مقاومت غورځنګ د هغو خلکو له منځ څخه راپورته شوی چې د فلسطین د خاورې اصلي مالکان دي. له ځمکې څخه دفاع او مقاومت د انساني ارزښتونو ترڅنګ یو دیني ارزښت دی چې هغې ته حرمت او تقدس ورکوي او د فلسطین د خلکو جهاد او مقاومت او د حماس په مشرۍ ټولو مقاومتي ډلو دا خپل هدف ګرځولي دي.

**ب:** له دې سره سره چې صهیونیستي رژیم د ټولو نړیوالو قوانینو د خلاف ورزۍ او د بشري ارزښتونو په تر پښو لاندې کولو سره په غزې باندې وحشیانه حملې پیل کړې او له یوې میاشتې راهیسې یې د غزې په شمال کې په بمباریو او جنګونو سربېره خلک له خوراک او اوبو بې برخې کړي دي. بیا هم د غزې خلکو خپله خاوره نه ده پرېښې او د هجرت پر ځای یې شهادت غوره کړی دی او ویلي یې دي چې د ۱۹۴۸ کال د خپلو پلرونو تېروتنه به نه کوي او خپله خاوره به نه پرېږدي.

**ج:** د مقاومت له محور سره تړلې ډلې د غزې په ملاتړ کې خپلو بریدونو ته دوام ورکوي او د فلسطین او الاقصی جومات دفاع یو فرض او یو دیني وجیبه ګڼي. حوثیان د صهیونیستي رژیم او د هغو د ملاتړو په بېړیو باندې د سره سمندرګي د تیریدو په کنټرولولو سره خپلو حملو ته دوام ورکوي. حزب الله د خپلو مشرانو له وژلو وروسته د صفونو په بیا جوړولو سره د صهیونیستي رژیم پرضد حملې پیل کړې، صهیونیستي پوځ ونه توانید د لبنان په جنوب کې پرمختګ وکړي او پراخ ځاني او مالي تاوانونه یې ولیدل.

**د:** صهیونیستي رژیم د امریکا متحده ایالات په ملاتړ سره لا هم په هوایي او ځمکنیو حملو کې نسل وژنې ته دوام ورکړی دی. په دې کې شک نشته چې امریکا متحده ایالات په ژمنو او اقداماتو کې له صهیونیستي رژیم سره لاس یو کړی دی. د الاقصی د طوفان له پیلیدو وروسته یې د صهیونیستي رژیم د جنایتونو د توجیه کولو ترڅنګ د 17.9 میلیارد ډالرو پوځي همکاري کړې او د یمن د حوثیانو په وړاندې یې 4.86 میلیارده ډالره نور مصرف کړي دي.[12] پر دې سربیره د صهیونیستي رژیم په لسګونو پوځیان د جنګ په مختلفو ډګرونو کې ښکار کیږي. له بلې خوا داسې رپوټونه شته چې د صهیونیستي رژیم اوسپنیز بنسټونه مخ په غورځېدو او حد اقل ته رسیدلي دي. له همدې امله ممکن صهیونیستي رژیم لدې وروسته د ټول منځني ختیځ د توغندیو او بې پیلوټه الوتکو په وړاندې د مقابلې توان ونه لري. ښایي پر ایران یې د خپل کمزوري برید یو لامل همدا وي، چې ایران په لوی لاس ځواب نه ورکوي. په هر صورت، صهیونیستي رژیم له یوې سترې ستراتیژیکې ستونزې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

سره مخامخ دی چې نه یوازې دا چې خپل ورک شوی وقار به بیرته ترلاسه نکړي، بلکې ورځ تر بلې د ځان او نورو لپاره په یوه ناورین بدلیږي.

له همدې امله نتانیاهو هڅه کوي چې منځنی ختیځ له ژور بحران سره مخ کړي. ځکه چې په منځني ختیځ کې د جګړې پراخول په دغه سیمه کې د نورو سیمه ییزو قدرتونو د مداخلې امکان زیاتوي چې په ټوله کې بحران رامنځته کوي. له همدې امله صهیونیسټ رژیم ته پکار ده چې د غزې او په منځني ختیځ کې د مقاومت د نورو جبهو په اړه کې په خپلې تګلارې له سره غور وکړي.

## پایله

د الاقصی د طوفان د عملیاتو له پیل او د صهیونیسټ رژیم له پراخو جنایتونو او د ګڼو انسانانو د مرګ ژوبلې له یو کال تیریدو وررسته، دغه عملیاتو د فلسطین د حالاتو په هکله د نړیوالو پوهاوی زیات کړی دی. د فلسطین ولس چې له اویا کلونو راهیسې د جبري مهاجرتونو، محرومیتونو، شکنجو او توهینونو ښکار دي، له بلې خوا، د صهیونېسټ رژیم حقیقت څرګند شو او د دې خاورې د اصلي خلقو په خلاف یې ظلم او جبر څرګند شو. نړیوالې مظاهرې او د ټولپوښتنې پایلې د دې مسئلې په اړه د چلند د بدلون ښودنه کوي. سربیره پردې، د نړیوالو بنسټونو غبرګون او د پریکړه لیکونو صادرول، په ځینو مواردو کې د دغو بنسټونو د دوه مخیتوب ترڅنګ، په سیمه کې د تاوتریخوالي د کمولو او د ثبات د رامنځته کولو لپاره د ګډو هڅو ښودنه کوي، خو د صهیونیستي رژیم له خوا د دغو پریکړه لیکونو له پامه غورځول به بشري ناورین زیات کړي، تاوتریخوالی او جنګ به سیمه ییز کړي او نړۍ به له ډیرو ستونزو سره مخامخ کړي.

د نتانیاهو او د صهیونیستي رژیم وحشیانه اقدامات د دې سبب شول چې د فلسطین خلک په خپلو اعتقاداتو او د خپلې خاورې د دفاع او د خپلو مقدساتو په ساتنه کې لاټینګ شي. په فلسطین کې دننه د مقاومت ډلې د یووالي پر لور حرکت وکړي، او د خپلو حقونو د ترلاسه کولو یوازینی حل لاره د وسله والو مقاومتي ډلو شتون وګڼي. د مقاومت ډلې د اقصی په طوفان کې لا زیات اتحاد او یووالي ته ورسېدل. دغه پیوستون نه یوازې د فلسطین بلکې سیمې د نورو خلکو د مقاومت د روحیې په پیاوړتیا کې مرسته کړې ده، بلکې صهیونیسټ رژیم یې هم له ستونزو سره مخ کړی دی. د صهیونیسټ رژیم کړنې چې په ملکیانو حملې کوي تاوتریخوالی زیات کړی او ممکن د سیمه ییزو قدرتونو د مداخلې سبب شي. د حماس او د غزې له خلکو د اسلامي مقاومت غورځنګ سیمه ییز پوځي ملاتړ او د صهیونیسټ رژیم پوځي بندیزونو ته په پام سره د حماس د ملاتړو جبهې د له مینځه وړلو لپاره د دغه هیواد هڅې به له سختو ننګونو سره مخامخ شي. له همدې امله صهیونیسټ رژیم د کړکیچ د زیاتېدو او د نورو جنګونو د مخنیوي لپاره باید په خپلو ستراتیژیو له سره غور وکړي او سیاسي او دیپلوماتیکي حل لارې ولټوي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## وړاندیزونه

۱- په دې برخه کې ملګري ملتونه باید د پریکړه لیکونو د صادرولو پرځای عملي اقدامات وکړي او صهیونیسټ رژیم دې دې ته اړ کړي چې وحشیانه بریدونه ودروي او د غزې مظلومو خلکو ته د بشري مرستو رسولو ته لاره هواره کړي.

۲- ملګري ملتونه باید د هغو هیوادونو مخه ونیسي چې د صهیونیستي رژیم سره د وسلو او اقتصادي برخو کې همکاري کوي.

۳- د اسلامي هېوادو سازمان باید د بیت المقدس او د غزې د خلکو په ملاتړ جدي تصمیم ونیسي او که د صهیونیسټ رژیم له خوا نسل وژنه نه ودرېږي، نو اسلامي هیوادونو سازمان باید د پوځي ځواک څخه په ګټنه د جنګ د بندولو لپاره اقدام وکړي.

## سرچینی

[1] . الجزیرة: عام على طوفان الاقصى ... 2024/10/9 ، لینک:
https://www.aljazeera.net/politics/2024/10/8/%D8%B9%D8%A7%D9%85-%D8%B9%D9%84%D9%89-%D8%B7%D9%88%D9%81%D8%A7%D9%86-%D8%A7%D9%84%D8%A3%D9%82%D8%B5%D9%89-%D8%AD%D8%B5%D8%A7%D8%AF-%D8%A5%D8%B3%D8%B1%D8%A7%D8%A6%D9%8A%D9%84%D9%8A

[2] . الجزیرة: عام على طوفان الاقصى ... 2024/10/9 ، لینک:
https://www.aljazeera.net/politics/2024/10/8/%D8%B9%D8%A7%D9%85-%D8%B9%D9%84%D9%89-%D8%B7%D9%88%D9%81%D8%A7%D9%86-%D8%A7%D9%84%D8%A3%D9%82%D8%B5%D9%89-%D8%AD%D8%B5%D8%A7%D8%AF-%D8%A5%D8%B3%D8%B1%D8%A7%D8%A6%D9%8A%D9%84%D9%8A

[3] . الجزیرة: الجیش الإسرائیلی یبدأ عملیة بریة داخل لبنان، 2024/10/1، لینک:
https://www.aljazeera.net/news/2024/10/1/%D8%B9%D8%A7%D8%AC%D9%84-%D8%A7%D9%84%D9%85%D8%AA%D8%AD%D8%AF%D8%AB-%D8%A7%D9%84%D8%B9%D8%B3%D9%83%D8%B1%D9%8A-%D8%A7%D9%84%D8%A5%D8%B3%D8%B1%D8%A7%D8%A6%D9%8A%D9%84%D9%8A-%D9%82%D9%88%D8%A7%D8%AA

[4] . ایسنا: اصابت پهپاد حزب الله به محل اقامت نتانیاهو در " قیساریه"، 28 میزان 1403، لینک:
https://www.isna.ir/news/1403072820956/%D8%A7%D8%B5%D8%A7%D8%A8%D8%AA-%D9%BE%D9%87%D9%BE%D8%A7%D8%AF-%D8%AD%D8%B2%D8%A8-%D8%A7%D9%84%D9%84%D9%87-%D8%A8%D9%87-%D9%85%D8%AD%D9%84-%D8%A7%D9%82%D8%A7%D9%85%D8%AA-%D9%86%D8%AA%D8%A7%D9%86%DB%8C%D8%A7%D9%87%D9%88-%D8%AF%D8%B1-%D9%82%DB%8C%D8%B3%D8%A7%D8%B1%DB%8C%D9%87

[5] . الجزیرة: البحریة الأمریکیة: المعرکة ضد الحوثیین الأعنف ...، 2024/6/14، لینک:
https://www.aljazeera.net/news/2024/6/14/%D8%A7%D9%84%D8%A8%D8%AD%D8%B1%D9%8A%D8%A9-%D8%A7%D9%84%D8%A3%D9%85%D9%8A%D8%B1%D9%83%D9%8A%D8%A9-%D8%A7%D9%84%D9%85%D8%B9%D8%B1%D9%83%D8%A9-%D9%85%D8%B9

[6] . The Washington Institute for Near East Policy: لمحة عامة: المقاومة الإسلامیة في العراق، لینک:
https://www.washingtoninstitute.org/ar/policy-analysis/lmht-amt-almqawmt-alaslamyt-fy-alraq

[7] . الجزیرة: کیف سترد فصائل المقاومة العراقیة على اغتیال نصر الله؟ 2024/9/30، لینک:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

https://www.aljazeera.net/politics/2024/9/29/%D9%83%D9%8A%D9%81-%D8%B3%D8%AA%D8%B1%D8%AF-%D9%81%D8%B5%D8%A7%D8%A6%D9%84%D8%A7%D9%84%D9%85%D9%82%D8%A7%D9%88%D9%85%D8%A9-%D8%A7%D9%84%D8%B9%D8%B1%D8%A7%D9%82%D9%8A%D8%A9-%D8%B9%D9%84%D9%89

[8] . تسنیم: ۳ حمله پهپادی مقاومت عراق به ایلات و جولان اشغالی، ۲ عقرب ۱۴۰۲ش، لینک:
https://www.tasnimnews.com/fa/news/1403/08/02/3184124/3-%D8%AD%D9%85%D9%84%D9%87-%D9%BE%D9%87%D9%BE%D8%A7%D8%AF%DB%8C-%D9%85%D9%82%D8%A7%D9%88%D9%85%D8%AA-%D8%B9%D8%B1%D8%A7%D9%82-%D8%A8%D9%87-%D8%A7%DB%8C%D9%84%D8%A7%D8%AA-%D9%88-%D8%AC%D9%88%D9%84%D8%A7%D9%86-%D8%A7%D8%B4%D8%BA%D8%A7%D9%84%DB%8C

[9] . العین فارسی: مروری بر مهمترین ترورهای اسرائیل در ایران، 2024/8/2، لینک:
https://alainpersian.com/article/israel-killings-iran

[10] . عصر ایران: 7 نکته در باره حمله اسرائیل به ایران...، 5 عقرب 1403ش، لینک:
https://www.asriran.com/fa/news/1008254/7-%D9%86%DA%A9%D8%AA%D9%87-%D8%AF%D8%B1%D8%A8%D8%A7%D8%B1%D9%87-%D8%AD%D9%85%D9%84%D9%87-%D8%A7%D8%B3%D8%B1%D8%A7%D8%A6%DB%8C%D9%84-%D8%A8%D9%87-%D8%A7%DB%8C%D8%B1%D8%A7%D9%86-%D8%AD%D8%A7%D9%84%D8%A7-%DA%86%D9%87-%D9%85%DB%8C-%D8%B4%D9%88%D8%AF

[11] . خبرگزاری آنادولو: رئیس آکادمی میت: در صورت حمله ....17 میزان 1403ش، لینک:
https://www.aa.com.tr/fa/%D8%A7%DB%8C%D8%B1%D8%A7%D9%86/%D8%B1%D8%A6%DB%8C%D8%B3-%D8%A2%DA%A9%D8%A7%D8%AF%D9%85%DB%8C-%D9%85%DB%8C%D8%AA-%D8%AF%D8%B1-%D8%B5%D9%88%D8%B1%D8%AA-%D8%AD%D9%85%D9%84%D9%87-%DA%AF%D8%B3%D8%AA%D8%B1%D8%AF%D9%87-%D8%A7%D8%B3%D8%B1%D8%A7%D8%A6%DB%8C%D9%84-%D8%A8%D9%87-%D8%A7%DB%8C%D8%B1%D8%A7%D9%86-%D8%A7%D8%AD%D8%AA%D9%85%D8%A7%D9%84-%DA%A9%D8%B4%D8%A7%D9%86%D8%AF%D9%86-%D8%A2%D9%85%D8%B1%DB%8C%DA%A9%D8%A7-%D8%A8%D9%87-%D8%AC%D9%86%DA%AF-%D9%88%D8%AC%D9%88%D8%AF-%D8%AF%D8%A7%D8%B1%D8%AF/3354917

[12] . الجزیزة: تقریر: 17.9 ملیار دولار المساعدات العسكرية الأمريكية لإسرائيل منذ طوفان الأقصى، 2024/10/7، لینک:
https://www.aljazeera.net/politics/2024/10/7/%D8%AA%D8%A7%D9%8A%D9%85%D8%B2-%D8%A3%D9%88%D9%81-%D8%A5%D8%B3%D8%B1%D8%A7%D8%A6%D9%8A%D9%84-%D8%B1%D9%82%D9%85-%D9%82%D9%8A%D8%A7%D8%B3%D9%8A-%D9%84%D9%84%D9%85%D8%B3%D8%A7%D8%B9%D8%AF%D8%A7%D8%AA

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000